AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اکبربری

۲۰۲۴/۰۲/۱۱

# د میخانې لار

ما کې هیله په مستۍ مستۍ خوځېږي
ما کې بیا ویده اسره نن راوېښېږي
زما په سرکې بیا جنون وهي موجونه
ما کې بیا د شوق غوټۍ په شوق غوړېږي
د نامراده شپو کیسې لاړې زړې شوې
بخته وخانده چې ژوند راته خندېږي
زېرې زېرې زما ستره لېونتوبه!
چې نن بیا د لېونوجنده هسکېږي
زما جنون د هوښیارانو عقل خام که
څه چې زه کړم، په هوښیارو کله کېږي؟
شیخه خوار شې لدې زیات جنت به څه وي؟
چې ساقي په لاس کې جام ، په خوله مسېږي
څه چې تشې پیمانې کړو کیسې پرېږده
څوک خبر چې پس له مرګه څه پېښېږي؟
زه اکبر دا هسې خام او شوده نه یم
چې به لار د میخانې رانه ورکېږي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ